# <u>مطبوعاتي اعلاميه</u>

**د خلکو د ساتنې په پلمه حکومت قرنطین اوږدوي او په دې سره د خلکو کړاوونه نور هم ډېروي چې د دفاع قانون څخه مخکې يې د ترسره کېدلو جرأت نه کېدو!**

د کرونا ویروس چې په ټوله نړۍ کې خپور شوی، د دفاع قانون د وضع کېدلو لامل نه و، بلکې دا یو فرصت و، چې رژیم او حکومت يې انتظار ایستلو تر څو د کرونا ویروس او قرنطین څخه پرته احتیاطی تدابیر وضع کړي. د دې لپاره شواهد هغه بدلونونه او بندیزونه دي، چې په عین وخت کې نورمال ژوند ته د تدریجي بېرته راستنېدو لپاره په خپلو پرېکړو او دفاعي قوانینو کې د حکومت په اړه لیدل کېږي.

په پیل کې، له دغه ویروس څخه د ډار او وېرې لپاره کار واخیستل شو تر څو وکولای شي چې پر خلکو خپل اقدامات پلي کړي، په بشپړه توګه دوی په خپلو کورونو کې قرنطین کړي او پرته له څو مشخصو ځایونو او وختونو څخه خلک له معیشت او د ژوند له چارو څخه راوګرځوي. د ناورین په پیل کې يې هېڅ نه ویل او نه يې هم د مخنیوي پر وړاندې ګامونه اخیستل، میاشت تېره شوه چې اوس لومړی وزیر د اونیو او میاشتو د کړکېچ د دوام په اړه غږېږي. سربېره پر دې چې په عمومي

ډول د ناروغۍ کنټرول او د قضیو کمېدل دا په ګوته کوي چې په اردن کې رژیم د اقداماتو مسئله پای ته نه ده رسولې او پر خلکو د پلي کولو په لټه کې دي، غواړي له دې فرصت څخه ګټه واخلي او پر خلکو نرم فشار راوړي چې د کرونا ویروس څخه وړاندې یې نه درلود. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**«اللَّهُمَّ مَنْ وَلِيَ مِنْ أَمْرِ أُمَّتِي شَيْئًا فَشَقَّ عَلَيْهِمْ فَاشْقُقْ عَلَيْهِ وَمَنْ وَلِيَ مِنْ أَمْرِ أُمَّتِي شَيْئًا فَرَفَقَ بِهِمْ فَارْفُقْ بِهِ»**

**ژباړه: *«اې الله سبحانه و تعالی، څوک چې زما د خلکو پر چارو یو ډول کنټرول تر لاسه کوي او پر هغوی سخت دي، پر هغه باندې سخت شه، څوک چې زما د خلکو پر چارو یو ډول کنټرول تر لاسه کوي او پر دوی مهربان دی ـ د هغه سره مهربان اوسه».***

رژیم او حکومت پرته له هغه ناعادلانه وضعیت څخه چې له مرستې او همکارۍ څخه لرې دي، خلک له کار کولو څخه راګرځوي او د ژوند د اړتیاوو د پوره کولو مخنیوی یې کوي، دوی د پلورنځیو پرانیستلو او پیر او پلور ته نه پرېښودل کېږي، د حکومت ویاند تکرار کړې، چې حکومت په ډېر ناوړه وضعیت کې ښکېل دی، هر څوک چې دولتي مرسته غواړي، هغه مرسته چې نه لوږه لرې کولای شي او نه هم څوک سم تغذیه کوي

او څوک چې غواړي خپل کار ته دوام ورکړي او خپل دوکانونه پرانیزي، اړ دي چې په ټولنيز امنيت کې ځان ثبت کړي، حتی که څه هم دا ثبت اختياري دی او له ۱۰۰ زرو څخه ډېرې داسې اداري شته چې هېڅ ثبت نه دي.

سربېره پر دې، دولت به د دې کړنلارې لپاره هېڅ فيسونه ترلاسه نه کړي او د کارمندانو معاشونه به ورنه کړي، پرته له هغو کسانو څخه چې د ګرځنده ټيليفون له لارې په الکټرونيک ډول ثبت دي، هغه کسان چې بانکي حسابونه نه لري، نغدې پيسې نه ورکول کېږي او د فيس ورکولو لپاره يې انلاين سيسټم ته اړ کوي. هغه څوک چې دا شرايط پوره نه کړي، د کار کولو اجازه نه ورکول کېږي. ايا له دې څخه ډېره ګټه اخيستل کېدلای شي؟ څه چې رژيم غواړي هغه شخصي معلومات، د خلکو ليست، مالي حسابونو ته لاسرسی، د دوی جيبونه خالي کول او ناروا مالي سيسټم فعاله کول دي. سربېره پر دې هم دولت د سږ کال لپاره د ملکي او نظامي تخصيصونو په مخنيوي سره د ښوونکو د امتيازونو مخه ونيوله، د رژيم حکومت د ښوونيز کال په پيل کې په زور له کارمندانو څخه لوړ امتيازونه اخيستې دي؛ دا هغه موخې دي چې رژيم يې له دې ټولو شرايطو او کړنلارو له لارې په لټه کې دی.

د اردن په ډېرو برخو کې د وبا د کنټرول په اړه د پرله پسې راپورونو سربېره، له هغو ځایونو پرته چې بندیزونه لرې شوي، حکومت بیا هم له خلکو سره په معاملو کې د زورواکۍ او ظالمانه ذهنیت څخه کار اخلي، دوی نه پرېږدي چې مراسم ونیسي. په ځانګړې توګه دوی د جمعې لمونځ ته نه پرېښودل کېږي چې په روژه کې په مسجدونو کې په غوره توګه عبادت وکړي او الله سبحانه و تعالی ته د دعا لاسونه لپه کړي، خو رژیم یې پر بندیز ټینګار کوي. د دوی جرم اوس خلکو ته روښانه شوی دی، ټول خلک اوس پوهېږي، چې د حکومت عذرونه د تارکښې(غنې) له کور څخه هم ډېر کمزوري شوي دي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**«مَا مِنْ عَبْدٍ يَسْتَرْعِيهِ اللَّهُ رَعِيَّةً، يَمُوتُ يَوْمَ يَمُوتُ وَهُوَ غَاشٌّ لِرَعِيَّتِهِ، إِلَّا حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ»**

***ژباړه: «هر هغه بنده ته چې د الله سبحانه و تعالی له لوري د رعیت رعایت وسپارل شي او دی له هغوی سره دوکه وکړي او مړ شي، الله سبحانه و تعالی به جنت پرې حرام وګرځوي»***

د رژیم او حکومت تر څارنې لاندې اقتصادي، مالي او د باج اخیستلو اقدامات، یوازې هغو کسانو ته اجازه ورکوي چې د کرونا له ناورین څخه

تېر شي، څوک چې مدافع قوانین د الکټرونیکي پیسو د معامله کولو سره د غصب شوې پانګوالي اقتصادي نظام سره معامله کوي او د مسجدونو د تړلو په دوام سره د هغوی د پرانیستل کېدو لپاره اړین ګامونه اخلي، حکومت د کرونا ویروس څخه وړاندې دا جرات نه کولو چې دا اقدامات وضع کړي، ځکه چې د خلکو د روغتیا ساتلو له توجیه څخه لیرې دي او حکومت او وزیران یې ادعا کوي چې نوي اقدامات به ترسره کړي.

امت د رژیم پر لوبو، دروغو او حضور ډېر ښه پوهېږي. ټولې اندېښنې یې یوازې د پیسو د نړیوال وجهي صندوق د پروګرامونو او د ټرامپ د معاملې د شرایطو د پوره کولو لپاره کار کول دي، د خلکو د ژوند او روغتیا لپاره اندېښنه نه لري، بلکې دوی محکوموي او دا اقدامات پرې مني، د یهودي شرکت سره د ګازو تړون هوکړه یوازې څو میاشتې کېږي، مګر بیا هم ټولو خلکو رد کړ.

لکه څنګه چې امت ورځ تر بلې پوهېږي، چې حاکم رژیمونه یوازې د استعماري کفارو د چوپړ لپاره دي. دوی اوس پوهېږي او لیوالتیا لري چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر منهج د راشده خلافت د تاسیس لپاره متې راونغاړي او په دې سره د خپلو لمونځونو، روژو او

زکاتونو سره د الله سبحانه و تعالی رضایت تر لاسه کړي، د عزت او مال ساتنه وکړي او د کفارو له منګولو يې مالونه او شتمنۍ بېرته راوګرځوي.

**[الَّذِينَ يَسْتَحِبُّونَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا عَلَى الْآخِرَةِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ وَيَبْغُونَهَا عِوَجاً أُولَٰئِكَ فِي ضَلَالٍ بَعِيدٍ]**

ژباړه: «***هغه خلک چې د دنیا ژوند پر اخرت غوره بولي، دغه راز د الله سبحانه و تعالی له لارې خلک منع کوي او غواړي چې دغه لاره (د هغوی له هیلو سره سمه) کږه شي؛ نو دا خلک په ګمراهۍ کې ډېر لیرې تللي دي.***» ***[ابراهیم:۳]***

**د حزب التحریر- ولایه اردن مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۱هـ.ق کال، د رمضان ۲مه**

**۲۰۲۰م کال، د اپرېل ۲۵مه**

**د صدور ګڼه: ۱۴۴۱/۱۰**